نجیب ننګیال

۲۰۲۱/۱۲/۰۲

# ګوډ ملا، ړوند ملا او ګونګ ملا...

تېر کال چې په ماسترۍ بوخت وم. یوه ورځ د جنرال مارک میلي لیکچر و. دغه دنګ، د پلنو اوږو، پېر غړ او قوي اندام ښتن امریکایي جنرال ډېرې خبرې وکړې. په دوه خبرو یې محصلینو ته ډېر ټینګار وکړ » .تاریخ ولولئ، تاریخ ولولئ او بیا هم تاریخ ولولئ.» بیا یې نظامي محصلینو ته مخ واړوه ....and stay apolitical مانا غیر سیاسي اوسئ .

دا ورځې ډېر چورتونه وهم. خپل ژوند، اړیکې، ملګري، وطن، ارمانونه او د راتلونکي هیلې ټولې داسې سره وپاشل شوې چې ژوندي انسان ته یې درد زغمل اسانه چاره نه ده. که یو وخت چا د دغسې حالت پیشګویي درته کړې وه، حتما دې تر دې وړاندې مرګ غوره باله. خو د انسان بدمرغي یا نېکمرغي دا ده چې د هر ډول حالت سره عادي کېدای شي. نه مري، خو ژوند یې هم د پخوا په څېر نه وي. ځینې نوي راغلي وطنوال ګورم چې په هیجاني ډول دې رنګینیو سره عکسونه باسي او خپروي یې. زړه مې پرې وخوږېږي. بېچاره ګان په توده کې دي. د بې وطنۍ ښپې یې لا سمې نه دي حس کړي او په دې مصنوعي ژوند کې لا د زړه تنګی له زوره نه دي خبر. دلته خپل ژوند مدیریت کول په افغانستان کې د یوه ریاست تر رهبري کولو ډېره انرژي غواړي. که دې سم پام پرې ونکړ، دیوالیه کېږې، استهلاکېږې. خو نه پوهېږم ولې داسې انګېرم لکه ځینو ته چې سقوط رحمت شو. ځینې له حسابه پکې خلاص شو او یو پنډ د فساد دوسیې یې ممکن د عفوې له فرمانه برخورداره شي. که څه هم نوي راغلي کارغان وایي چې حقوق العباد نه بښو. لکه دوی چې میړتون نه وي ازار کړی او دا ښل کاله د وینو سېلاب خدای روان کړی و. خو دعا مو دا ده چې خدای دې ظالم په ظالم ووهي. د طبیعت او کیمیا فورمول همدا دی چې عضوي عضوي حلوي. د سقوطونو، انقلابونو او ټوپانونو په وطن کې دا سقوط تر ټولو بد را ته وبرېښېده. شخصا یې له بلې هیڅ ماتې سره نه مقایسه کوم. اعتراف کوم چې مونږ ماته وخوړه او زمونږ ماته متاسفانه د یوه ملت ماته هم شوه. کاش دا یوازې زمونږ ماته وای، یوازې د هغوی ماته وای چې په واک کې و. ملت نه سرنګون کېدای او د کلیمې محراب درې رنګه سل کلن بیرغ د پنجابي کرنېل پښو کې نه وای شهید شوی. هغه ورځ به مې هېره نشي. د کابل تر سقوط یوه ورځ مخکې یوه لوړپوړي چارواکي را ته ویل، د سقوط په اړه مې ډېر اورېدلي و. خو سقوط مې لیدلی نه و. دا ورځې چې د ولسوالیو او ولایتونو سقوط ګورم نو پوهېږم چې سقوط څرنګ وي او په څومره چټکۍ مخکې ځي. زړه مې و ورته وویم چې د احمق زویه سقوط هم باید سرې یو ځل ووینې چې بیا یې مخه ونیسې؟ نوم یې ځکه نه اخلم چې تېره لیکنه ټوله له نومونو ډکه وه. ایله له هغو جنجالونو په یو کال کې وځو. یاران دې ما په خپله بزرګوارۍ وبښي، د صاحب شاه صابر خبره زمونږ بغیر له تا نه نور څوک دي؟ ماران دې خپل کار کوي. ځینې زهر په مونږ هسې هم تاثیر نکوي. د لیکوال بېچاره برخه دلته هم خواره وي چې دی یې په لیکلو مقصر وي، نور یې په کولو هم نه وي. شاید لیکل به په ریکارډ پاتې کېږي او د عملونو ښېګړه دا ده چې اګه دیدي بازي، اګه نه دیدي دوزي .

خبره بلې خوا لاړه. د مارک میلي دواړه خبرې چې نن هم چورت پرې وهم د خپل وطن د کابو پنځوس کلیني غمیزې تشخیص را ته پکې ښکاري. مونږ نه تاریخ لولو او نه مو پوخ غیر سیاسي پاتې شو. پوځ ته له ډېره درده سرې ماشاءالله وواېي. جنرال قادر د بمبار جیټ الوتکې په ارګ را پورته کړې، داود خان یې شهید کړ. د خلقي انقلاب لوی خند یې له مخې لرې کړ. خو د هماغه انقلابیانو بیا د خوست په شل کیلومترۍ کې د جلال الدین حقاني مرکز بمبارولو ته ملا ماته وه. نه جیټ کار ورکاوه او نه سکډ. مونږ د کور زمریان، د سارا ګیدړ ملت یو. خپلو کې ښه سره خوړو. نورو ته خمه ملا ګرځو. دا شته ځان-مرګي چې ګورئ او ډېر مېړني مېړني کېږي په ښځو د قمچینو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وارونه کوي، دا ما په اکوړي کې د کماندرۍ له جمروزي چې یو عادي ملېشه ژاولن پاکستانی عسکر و، څخه په مندو لیدلي. هغه وخت که پوځ غیر سیاسي پاتې وای او په پوځ کې د سیاسي نظریاتي میکروبونو د سرایت مخه نیول شوې وای،افغانستان هیڅکله دا بدمرغۍ نه لیدلې. پوځي چې د سیاست علاقه لري، دریشي دې وغورځوي بسم الله. دا وار هم ربښتیا دا دي چې زمونږ نظامي تشکیلات د مستقیمو سیاسي مداخلو ښکار و او د هر ډګروال، جنرال او رتبه وال سیاسي وفادارۍ بدلې وې. د خدای پار دی د بریدمن او ډګرمن د ترفیع اسناد به د وکیلانو او سناتورانو په لاسونو کې ښکته پورته کېدل او دروازه په دروازه به یې ګرځول. مقررۍ او تبدیلۍ هم د دوی کار و. دا کار داسې په مشروعیت روان و چې وزیرانو به هم جینګې داړې نیولې وې، لاسلیکول به یې. نو ته او خدای چې مقرر یې وکیل کړي، ترفیع سناتور صاحب ورته واخلي او فیصدي د امنیت شورا ریاست دفتر ترې وغواړي، هغه عسکر به وطن، قانون او ملي مرام ته ژمن پاتې شي؟ سر به نذرانه کړي؟ هو، ټول داسې نه و. اکثریتو یې واقعا غرور درلود. د اصیلې مور شیدې یې څښلې وې. له خپل هر څه د دې وطن د ماشومانو د راتلونکي لپاره تېر و. خو قومانده د ډېرو خاینو خلکو په لاس کې وه. د زمریانو په راس کې چې ګیدړ مقرر کړې، هغه لښکر به ماته نخوري؟ زه د دوی په ذهنونو کې د حیفونو او ارمانونو د توپان غږ اورم. زه لا هم د ځانګړو څواکونو د ګمنامو سپاهیانو په سینو کې د وطنپرستۍ سوځوونکې تودوخه حس کوم او لا مې هم د هغه صحنې مایوسي خوب ته نه پرېږدي چې دوی به ګوته له ماشې لرې کوله. ټوپک یې غورځاوه. خو علت نه و معلوم. د چا په امر؟ د چا لپاره؟ ولې؟

مونږ یې له تاریخه نه زده کوو. حتا نه یې لولو. ما کم لوستی او ډېر مې اورېدلی دی. له ماضي عبرت نه اخلو. اشتباوې په مکرر ډول څکه تکرارو چې خبر نه یو کټ مټ کارونه د تاریخ د اشتباوو په ارشیف کې پراته دي. د چارو اداري رئیس صاحب به په ښکاره نارې وهلې، نارې نه بلکې بغارې چې زه دوهم سلطان علي کشتمند یم او په هماغه صلاحیتونو به دا اداره چلوم. که یې تاریخ لوستی وای بیا یې دا جک نه وهل چې سلطان علي خو وطن زرغون کړ چې ته به یې کړې؟ دا دریم وار دی چې ملا زمونږ نظام را نسکوروي. عزت مو نېلاموي او هویت مو له زمکې ولي. ګډ ملا د پرنګي جاسوسي وکړه. په وچ بدن، چوغو وړو سترګو، مکارو خبرو یې زمونږ خلک غولېدل. لارنس د پیر کرم شاه په څهره کې راغی. امام مو شو. خطبو او قلقلو ته یې غوږ و. ملا سقاو د تیراه له کوډګره تاویز په مټ پورې وتاړه. له غلاوو او شوکو چې ستړی شو. خادم دین رسول الله شو. مخ په کابل یې بریدونه پیل کړل. رک روغ نظام یې ړنګ کړ. هغسې نظام چې په شرط سره وایم هغه وخت ډېرو د نن پرمختللیو غربي هېوادونو هم نه درلود. هغسې اساسي قانون، د معارف مخ په ودې سیستم، په ۱۹۲۱ کې برقي ښاري بسونه، د ښځو لپاره برابر انساني حقوق، زده کړو او کار ته لاسرسی، ښاري نرخنامې، د عوایدو منظم سیستم، نړېوال پریستیج، سټنډرډ او پرمحتوا رسنۍ، سیمه ایز اتصال، مستقله بهرنۍ پالیسي او ....... اه!!! مونږ څه بدبخته خلک یو چې ماضي مو تر حال ډېره غوره او ډېره شانداره وه. مونږ د سل کاله پخواني پېر ارمان کوو. ملا سقاو په نهه میاشتنۍ واکمنۍ کې دومره خرابي وکړه چې نن یې هم تاثیرات څرګند دي. نن هم د هغه قبر د ملي شیرازې او ملي وحدت په وجود زهریله ګوزار دی. بیا څو لسیزې د ارامۍ، عزت او هویت څښتنان و. ملا حکمتیار را پورته شو. ملا رباني ور سره شو. مسعود یې شاګردي وکړه. چراټ ته ولاړل. د خپل روغ جوړ نظام په خلاف یې تمرینات پېل کړل. ملا سیاف، ملا مجددي، ملا ګیلاني، ملا محمد نبي او ملا خالص ور پسې ورغلل. څو ټکان یې لا نه و کړي چې کې جي بي په مسکو کې تبې ونیوله او خپلو نفوذي غلامانو ته یې د خطر زنګ تېر کړ. چې وار مخکې کړئ، کنه میدان د کاپیټالیزم لېوان نیسي. اندوخر جوړ شو. چې ښه یې وطن شلشم کړ. پسې بل ملا راغی. دا وار ګوډ ملا نه و، ړوند ملا و. هر څه ته یې په یوه سترګه کتل او هر څه یې د خپلې سترګې له زاویې لیدل. داسې نظام یې راوست چې انسان هغومره د انساني ازادیو، ژوند او هوساینې څخه محروم نظام تصور کولی هم نشي. خدای څه خو امریکا ځنې خلاص کړو. د یوه کروز سره له امیر المومنینه تر جنرال مبینه ټولو فرار وکړ. په موټر سایکل راغلل په موټر سایکل وتښتېدل. که به دې په سهوه کې هم ور غږ کړ چې وا ملا صاحب! در برګ به شو. ملا به دې پلار وي. حقیقت همدا دی چې د معاصرو فرارونو بنسټ لوی ملا صاب ایښی دی. په دومره توپیر چې هغه یې پیغمبري سنت بولي او وایي چې له جهله او ظلمه فرار د پیغمبر خاصه ده چې د مکې له جاهلانو ظالمانو یې یثرب ته کډه وکړه. هجرت یوه مودبه کلیمه ده. ربښتیا دا دي چې هجرت د فرار یو نوعیت دی. هر فرار بد نه وي. پښتانه وایي، که غل نه اوړي، مل دې واوړي. یا تېښته هم نیمه مېړانه ده. خو غم دلته دی چې که دا کار ملا وکړي ثواب دی. که یې ملا عمر وکړي، سنت دی. که یې غني وکړي، پیغور او طعنه ده. بیا چې درته ووایي جنګ مو ونکړو وتښتېدئ. هلک دا شل کاله یې چې یو نیم لک داني در کې وغځول، په اسهال مړه شو؟ خو همدا جنګ و کنه. شل کاله یې وځغلولې، وینې وینې یې کړې، زنداني یې کړې، تر ګوانتانامو یې و رسولې. ته یې چې په ځان نه راوړې او ته چې نه شرمېږې خدای دې وشرموه. کوڼ یې وای غ -و وه ده وېل چې زلزله ده. کیسه مې دا کوله چې دا وار بل ملا را نازل شوی. د ګوډ ملا او ړوند ملا وروسته د ګونګ ملا وار دی. درې میاشتو کې یو وار غږېږي. ربښتیا غږېږي نه غورېږي. په سر و بر یې دی خپله هم نه دی خبر چې څه وایي او څه یې ووېل. بس د معیوبو ملایانو تر جبر لاندې دا دی په دریم او څلورم وار ملت زندۍ کېږي. تاریخ یې مسخ کېږي. عزت یې نېلامېږي. ټول رنې رنې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ګوري. پوهېږئ علت يې څه دی؟ مونږ تاريخ نه لولو. مونږ بيا بيا له همدې نمک حرامه طبقې ماته خورو. هغه چې مونږ خپل نس وری پرېږدو، ده ته غوړه حلوا ورکوو. چې خېټه يې مړه شي. سور سپين، شحيم او لحيم شي لومړی وار يې په هماغه کاسې وي. لومړی هغه کافر بولي چې دی يې په تن پټاوه او لومړی د هغې فرښتې ښوونځی تړي چې ده ته يې د مور د لاس توده ډوډۍ راوښته. لومړی د هماغې ادې زوی ورته حلالوي چې ده ته يې جومات ته شورواوې ور څغلولې. دا ملا دی. ګوډ ملا دی، ړوند ملا دی، ګونګ ملا دی.... او ملا عالم او مولانا نه وي .
استاد ګل پاچا الفت څه ښه ويلي و:

**دوکه ور باندې نشئ که په سر يې سپين ململ دی**
**پرې مه غولېږئ، غل دی**
**پرې مه غولېږئ، غل دی**

**په خوله وايي امين يم، په دې خاوره مېين يم**
**مجلس د صادقانو ته راغلی په څه چل دی**
**پرې مه غولېږئ، غل دی**
**پرې مه غولېږئ، غل دی**

پای

نجيب ننګيال

د ۲۰۲۱ل د دسمبر لومړی

ويرجينيا، امريکا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ